په خلکو کې تر ټولو بد غل هغه دی چې هغه خپل لمونځ غلا کوي» هغه وفرمایل: څنګه خپل لمونځ غلا کوي؟ ویې فرمایل چې: «نه یې رکوع بشپړوي، او نه یې سجده

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «په خلکو کې تر ټولو بد غل هغه دی چې هغه خپل لمونځ غلا کوي» هغه وفرمایل: څنګه خپل لمونځ غلا کوي؟ ویې فرمایل چې: «نه یې رکوع بشپړوي، او نه یې سجده».

[صحیح دی] [ابن حبان روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې په غلا کې تر ټولو بد سړی هغه دی چې له لمانځه څخه غلا کوي. دا څکه چې د بل چا مال اخیستل به کېدی شي په دنیا کې ورته ګټه ورسوي، د دې غل په خلاف، څکه چې ده خپل حق له ثواب او اجر څخه غلا کړ، دوی وویل: او څنګه له خپل لمانځه څخه غلا کوي؟ هغه وفرمایل: نه یې رکوع پوره کوي او نه یې سجده؛ داسې چې رکوع او سجده په تېز سره کوي، نو په بشپړه توګه یې نه ادا کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65100